# شتمني

SHTAMANI

اوونيزه

د افغانستان اسلامي امارت

د ماليې وزارت


**د مصافحې اجر ، ثواب او برکتونه:**

د حديث شريف ژباړه: کله چې دوه مسلمانان سره مخامخ سي ، مصافحه (روغبړ) وکړي او د الله تعالی حمد ووايي او د ځانونو لپاره مغفرت وغواړي؛ نو دواړو ته مغفرت کېږي. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

**اجر ، ثواب و برکات مصافحه:**

ترجمه حديث شريف: هنگاميکه دو مسلمان رو برو شود ، مصافه (احوال پرسی) کنند و حمد خداوند متعال بگويند و برای خود مغفرت خواهی کنند ، هر دو بخشيده می شوند. : [رواه ابوداؤد باب في المصافحة (ص: ۳۵۲ ج:۲)]

(د ماليې وزارت د دعوت او ارشاد رياست ، له لوري)


چهارشنبه | د ربيع الثاني ۲۴-۱۴۴۵ / د لړم ۱۷-۱۴۰۲/ د نومبر ۸-۲۰۲۳ /دوهم کال / ۷۳ گڼه/ ۴ مخيز




## سرمقاله

### نقش ترانزيت در اقتصاد کشور

ترانزيت يعنی عبور و مرور کالاها و مسافران از يک منطقه به منطقه ديگر ، که عموماً از طريق يک مسير ميانجی مانند يک بندر ، ميادين هوايی ، يا ايستگاه راه آهن صورت بگيرد. ترانزيت ميتواند فوايد اقتصادی چشمگيری را برای کشور ها داشته باشد ، از جمله: ايجاد شغل: فعاليت‌های ترانزيت ، از جمله حمل و نقل ، انبارداری ، خدمات پشتيبانی و مرتبط ، ايجاد فرصت‌های شغلی بسيار زيادی را ايجاد می‌کند. اين شغل‌ها شامل رانندگی ، کارگری در بنادر و ميادين هوايی ، کار در ادارات و غيره می‌شوند. افزايش درآمد: فعاليت‌های ترانزيت می‌تواند منجر به افزايش درآمد ملی و رشد اقتصادی شود. با افزايش حجم تجارت و تردد ، درآمدهای مالياتی و عوايد دولت افزايش می يابند چنانچه در حال حاضر نظر به سهولت ها و ايجاد فضای امن و عاری از فساد اداری در بخش ترانزيت عوايد اين بخش نظر به گذشته افزايش چشمگير خويش را داشته است. همچنين ، ايجاد فرصت های کسب و کار و رشد صنايع مرتبط نيز به افزايش درآمد و اشتغال منجر می شود. همچنان بايد گفت فعاليت های ترانزيت منجر به افزايش درآمد های مالياتی می شود. با افزايش تردد و تجارت ، درآمد های مالياتی و عوايد دولت افزايش می يابند. اين درآمدها می توانند در تأمين هزينه های دولتی و ساخت زيرساخت های ترانزيتی بکار رود. توسعه صنعت: ترانزيت ممکن است منجر به توسعه صنايع مرتبط با حمل و نقل شود ، از جمله صنايع وابسته به بنادر ، ميادين هوايی و راه آهن. اين صنايع شامل ساخت تعميرات حمل و نقل ، حمل و ترخيص کالا ، خدمات لوژستيکی و غيره است. توسعه اين صنايع منجر به ايجاد نيروی کار ماهر و رشد اقتصادی در کشور و منطقه مرتبط می‌شود. افزايش تجارت بين‌المللی: ترانزيت باعث افزايش تجارت بين‌المللی و صادرات و واردات می‌شود. با ايجاد زيرساخت های حمل و نقل مناسب و سريع ، کالاها و محصولات به راحتی به بازارهای هدف منتقل می‌شوند و اين امر باعث توسعه تجارت و رشد اقتصادی می شود. که در حال حاضر عوايد بخش صادرات کشور نظر به گذشته همچنان افزايش قابل ملاحظه را داشته است. جذب سرمايه گذاری: مناطقی که زيرساخت‌های ترانزيتی قوی دارند ، معمولاً جذابيت بالايی برای سرمايه گذاران دارند. سرمايه‌گذاران ممکن است به دنبال فرصت های سرمايه گذاری در صنايع مرتبط با ترانزيت باشند ، همچنان ساخت و توسعه زيرساخت های ترانزيتی می تواند به نيروی کشيده شدن سرمايه های بزرگ و جذب سرمايه گذاری خارجی منجر شود. توسعه گردشگری: مناطقی که به عنوان مراکز ترانزيت شناخته می‌شوند ، معمولاً ميزبانان گردشگرانی هستند که در حال عبور و مرور هستند. اين باعث ايجاد درآمد های بيشتر برای کشور می گردد. در کل ميتوانيم ترانزيت را به عنوان شريان حيات اقتصادی تجارتی کشور ها عنوان نمود ، به هر اندازه که سيستم حمل و نقل از سرعت و امنيت بيشتر برخوردار باشد به همان اندازه نايل آمدن به اهداف بزرگ اقتصادی کشور ها نيز آسانتر می شود. با توجه به اهميت به سزای ترانزيت و نقش آن در اقتصاد کشور ، امارت اسلامی افغانستان با تلاش های فراوان در راسته (راستای) ايجاد فضای امن و عاری از فساد ، فضای مطمئن را برای ترانزيت ايجاد نموده ، که اين امر باعث شده تا صادرات کشور نسبت به هر زمان افزايش نموده و در عوايد کشور افزايش قابل ملاحظه به ميان آمده است.

با احترام

اداره

## د افغانستان د نفت او گازو په دولتي شرکت کې د جذب په موخه له ۳۲۰۰ کسانو څخه ازموينه واخيستل سوه




د ماليې وزارت اړوند د افغانستان د نفتو او گازو دولتي شرکت لپاره د مسلکي کارکوونکو د گومارني ازموينه د ازموينو ملي اداري لخوا د يو لړ مراسمو په ترڅ کې د کابل پوهنتون د تميم انصاري (رض) په تالار کې واخيستل سوه. په دغو مراسمو کې د دولتي شرکتونو لوی رئيس الحاج عبدالحميد اخندزاده ، د افغانستان د نفتو او گازو دولتي شرکت لوی او اجرائيه رئيس انجنير محمد نصير رحيمي (انجنير حسن) ، د ماليې وزارت د بشري سرچينو رئيس مولوي احمدشاه شاکر ، د ازموينو ملي اداري رئيس شيخ عبدالباقي حقاني ، د کابل پوهنتون رئيس دوکتور اسامه عزيز او د اسلامي امارت يو شمېر نورو مسئولينو هم گډون کړی وو.


د خبر پاته برخه ۳ يم مخ...


## ماليې وزارت له اداري فساد سره د مبارزې ملي ستراتيژۍ د تعديل لپاره پر نويو بنچمارکونو کار پيل کړ



د ماليې وزارت د پاليسۍ معينيت د همغږۍ ، څارني او راپور ورکولو لوی رياست سرپرست ښاغلي مطيع الله مجددي په مشرۍ د ماليې وزارت د پاليسۍ معينيت د رئيسانو ، مشاورينو او مسلکي آمرينو په گډون له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژۍ د تعديل په اړه د نويو بنچمارکونو او سپارښتنو د وړاندي کولو په موخه د همغږۍ لومړنۍ ناسته د دغه معينيت د غونډو په تالار کې ترسره کړه. په دې غونډه کې د اميرالمؤمنين «حفظه الله» د فرمان په رڼا کې له اداري فساد سره د مبارزې ستراتيژۍ د تعديل په اړه د افغانستان اسلامی امارت د چارو د سمون لوی رياست او د اداري فساد پر وړاندي د مبارزې رياست له غوښتنو سره سم هر اړخيز او مؤثر بحث وسو.

## د ماليې وزارت اړوند د کابل مرکزي سيلو په تورخم کې راستانه سوو گډوالو ته د ورځي (۳۰) زره وچه ډوډۍ برابروي!



د افغانستان اسلامي امارت په ټول قوت سره هڅه کوي ، چې د افغان کډوالو ستونزو ته پر وخت او په ښه ډول رسېدنه وکړي ، چې اوسمهال د پاکستان هيواد څخه په جبري توگه د راستانه سوو هيوادوالو وضعيت ته د رسيدني ، هغوی ته د سرپناء ، د خوراکي او روغتيايي توکو د برابرولو په موخه گډې کميټې جوړ سوي او په کار ئې پيل کړی دئ.


د خبر پاته برخه ۲ يم مخ...


## د افغانستان د راتلونکي اقتصادي پراختيا په نړيوال کنفرانس کې د ماليې وزارت د گمرکونو او عوايدو د معين وينا!



د هغه رب په نامه شروع کوم ، چې موږ ئې له ځمکې څخه پيدا کړو او له موږ څخه ئې د هغې د آبادولو غوښتنه وکړه. درود او سلام دې وي د کايناتو پر سرلوړي او سردار محمد (ص) چې پيدايښت ئې د نړۍ لپاره رحمت او مړينه ئې د ملتونو لپاره شفاعت وگرځېده. تر هر څه د مخه ټولو علماء کرامو ، علمي ، فرهنگي او ټولنيزو شخصيتونو ، محترمو استادانو ، د افغانستان د اسلامي امارت د کابينې غړو ، د امارت د بېلابېلو وزارتونو او ادارو استازو ، دولتي چارواکو ، د ملي او نړيوالو بنسټونو استازو ، په کابل کې د شيلر بنسټ استازو ، قدرمنو مېلمنو او د دې کنفرانس تنظيمونکو!


د وينا پاته برخه ۳ يم مخ...




د عوايدو لوی رياست د رهبرۍ په ناسته کې د حقيقي عوايدو د راټولولو په څرنگوالي بحث وسو


م ۲





د گمرکونو لوی رياست اداري ناسته تر سره سوه


م ۲




د سپين بولدک گمرک کارکوونکو د نشه يي توکو له قاچاق څخه مخنيوی وکړ


م ۲

د اسلام کلا په گمرک کې د ډالرو د غير قانوني لېږد مخه ونيول سوه


م ۲





معاون جديد عملياتی برای رياست عمومی عوايد وزارت ماليه تعيين گرديد


م ۲




تازه املوک په موسمي تعرفه کې شامل او گمرکي محصول ورته وټاکل سو

د کرنې ، اوبو لگولو او مالداری وزارت په غوښتنه او د ماليې وزارت اړوند د تعرفې کمېټې د دريمې ناستې د پرېکړې او د دې وزارت د مقام په منظورۍ د هيواد له بزگرانو څخه د ملاتړ په موخه تازه املوک په موسمي تعرفه کې شامل او (۳۰) سلنه گمرکي محصول ورته وټاکل سو.

املوک مېوه له دې وړاندې په موسمي تعرفه کې نه وه شامل او (۱۰) سلنه محصول به پر اخيستل کېده ، اوس مهال د تلې مياشتې له لومړۍ نېټې څخه د لړم مياشتې تر (۳۰) مې نېټې پورې ، چې په هيواد کې د املوکو د حاصلاتو د رسېدو موسم دئ ، (۳۰) سلنه گمرکي محصول اخيستل کېږي.

همداشان کچالو ، چې له دې وړاندې په موسمي تعرفه کې شامل او د حاصلاتو د رسېدو موده ئې د غويي مياشتې له (۱۵) مې څخه د تلې مياشتې تر (۳۰) مې نېټې پورې وه او په دې موده کې به (۳۰) سلنه گمرکي محصول پر اخيستل کېده ، اوس مهال ئې د حاصلاتو د رسېدو موده ، د جوزا مياشتې له لومړۍ نېټې څخه د لړم مياشتې تر (۳۰) مې نېټې پورې وټاکل سوه او گمرکي موسمي تعرفه ئې (۵۰) سلنې ته لوړه سوه.

د يادونې وړ ده ، چې اوس مهال د هيواد په ټولو گمرکونو کې د تازه املوکو او کچالو موسمي تعرفه د پلي کېدو په حال کې ده.

تازه املوک په موسمي تعرفه کې شامل او گمرکي محصول ورته وټاکل سو


م ۴

## د سپین بولدک ګمرک کارکوونکو د نشه يي توکو له قاچاق څخه مخنیوی وکړ



د کندهار ولایت د سپین بولدک ګمرک څیرکو او زړورو کارکوونکو نن په یوې وارداتي محموله کي (۹۱) کیلو ګرامه تریاك او (۵۸) کیلو ګرامه پوډر (نشه يي توکي) کشف او له قاچاقو څخه ئې مخنیوی وکړ. یاد نشه يي توکي په ډېر مهارت سره ځای پر ځای سوي وه او غوښتل ئې، چي له ګاونډي هیواد څخه ئې افغانستان ته په قاچاقي ډول راوړي. په دې تور یو کس نیول سوی او د نورو څېړنو لپاره به اړوندو ارګانونو ته ور وپېژندل سي.

**... د خبر دوام**

پر همدې بنسټ د مالیې وزارت اړوند د کابل مرکزي سېلو د کډوالو او بیرته راستنېدونکو چارو وزارت سره په همغږۍ په تورخم کي میشت افغان کډوالو ته د وچې ډوډۍ برابرولو مسؤلیت په غاړه اخیستی، چي په ورځني ډول راستانه سوو ګډوالو ته تر (۳۰) زرو پوري وچه ډوډۍ برابروي. د مالیې وزارت د مرکزي سېلو رئیس مولوي نصرالله منصور وایي، چي له پاکستان څخه په جبري توګه ایستل سوي افغان کډوال، چي د ژمي د یخ موسم په درشل کي هیواد ته راستنیږي، له هغوی سره مرسته کول خپل دیني، انساني او ملي مسؤلیت بولي او په دې برخه کي د کډوالو د بشپړ ځای پر ځای کېدلو پوري به د مرکزي سېلو له لوري دوی ته د وچې ډوډۍ برابرولو پروسه دوام ولري او همدا راز هڅه کوي، تر څو کډوالو ته نور اړین خوراکي توکي هم برابر کړي. د کابل مرکزي سېلو په تېرو درو ورځو کي راستانه سوو کډوالو ته د (سل زره) په شاوخوا کي وچه ډوډۍ استولې او وېشلي ده، همدا راز د یادي سېلو له لوري تورخم ته د ډوی پخولو داشونه، وسایل او پرسونل استول سوی دئ، چي په نږدې وخت کي به په تورخم کي د ډوډۍ پخولو پروسه پیل کړي. د یادوني وړ ده، چي د کابل مرکزي سېلو د اسلامي امارت له بیا حاکمیت وروسته د مالیې وزارت د رهبرۍ د هڅو په پایله کي فعاله سوه، چي اوسمهال د غنمو د زېرمه کولو، په لوړ کیفیت سره د اوړو د تولید، د وچې ډوډۍ، ناشته، روټ، کیك او کلچو د پخولو په برخو کي فعالیت کوي او تر څنګ ئې په دغه سېلو کي له (۴۰۰) څخه زیاتو هیوادوالو ته د کار زمینه برابره سوې ده.

## د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت له لوري په خوست ولایت کي د عامه پوهاوي سیمینار ترسره سو

د مالیې وزارت د عوایدو لوی ریاست اړوند د حقوقي خدمتونو او پالیسۍ ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمریت کارکوونکو له مرکز کابل وروسته په خوست ولایت کي د مالیاتي قوانینو، کړنلارو (طرزالعملونو)، لایحو او لاسته راوړنو په تړاو د عامه پوهاوي سیمینار ترسره کړ. دغه سیمینار د خوست ولایت د مستوفي مولوي نورالحسن محسن، د عوایدو لوی ریاست د اطلاعاتو او عامه پوهاوي آمر سید احمد هائد له خوا پرمخ وړل کېده، چي د دغه ولایت هټیوالو (اصنافو) او مشرانو ګډون پکښي کړی وو. یاد سیمینار په دوو برخو وېشل سوی وو، چي یوه برخه ئې د مالیاتي قوانینو، طرزالعملونو، لایحو او لاسته راوړنو په تړاو د معلوماتو ورکول، او بله برخه ئې د ګډونوالو پوښتنو ته ځوابونه ویل وه. په پای کي له ګډونوالو سره ژمنه وسوه، چي ستونزي به ئې د حل په موخه د عوایدو لوی ریاست له رهبرۍ سره شریکي کړي.

## د عوایدو لوی ریاست د رهبرۍ په ناسته کي د حقیقي عوایدو د راټولولو په څرنګوالي بحث وسو

د عوایدو لوی ریاست د کفیل او تخنیکي مرستیال عبدالولي «نوري» په مشرۍ د دغه ریاست د رهبرۍ پلاوي په ناسته کي، چي د عوایدو لوی ریاست د حقوقي خدمتونو او عوایدو د پالیسۍ رئیس مولوي نداء محمد «صدیقي»، د غیرمالیاتي عوایدو رئیس امان الله «امین»، د قانون د تنفیذ او مالیاتي اطاعت پذیرۍ رئیس مولوي دوست محمد «حقاني»، د مالیه ورکوونکو خدمتونو رئیس عبدالقیوم «نصیر»، د عوایدو د بررسۍ رئیس انجنیر خان محمد «ذاکر»، د عوایدو د




سیستم رئیس محمد جلال «احمدزي» او د یاد ریاست مسلکي کارپوهانو ګډون کړی وو، د بېلابېلو موضوعاتو ترڅنګ د تېر او روان (۱۴۰۲) مالي کال د حقیقي عوایدو د را ټولولو پر کیفیت او د تېر کال په پرتله د ټاکل سوي هدف پر څرنګوالي بحث او د نظرونو تبادله وسوه. د ناستي د راپور له مخي دا چي د تېر کال په پرتله سږني عواید ښه دي؛ نو ټنیګار پر دې وسو، چي د عوایدو راټولو په برخه کي لا منظمي هڅي تر سره سي.

## د ګمرکونو لوی ریاست اداري ناسته تر سره سوه



د ګمرکونو لوی ریاست د روان مالي کال (۱۸)مه اداري ناسته د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین «سعید» په مشرۍ د یاد ریاست په مقام کي تر سره سوه. په دې ناسته کي، چي د ګمرکونو لوی ریاست تخنیکي او عملیاتي مرستیالانو، رئیسانو او یو شمېر آمرینو ګډون کړی وو، د ګمرکونو لوی ریاست د اړوندو چارو په لا ښه والي، په ورځنیو چارو، په ګمرکونو کي د یو شمېر سوداګریزو شرکتونو د وارداتي، صادراتي او ټرانزیټي توکو د طی مراحلو په شته ستونزو او حل لارو، سوداګرو ته د لازمو اسانتیاوو په رامنځته کولو او یو شمېر نورو اړوندو موضوعاتو په تړاو بحث او د نظرونو تبادله وسوه او په اړه ئې لازمي پرېکړې وسوې.

## د اسلام کلا په ګمرک کي د ډالرو د غیر قانوني لېږد مخه ونیول سوه



د هرات ولایت د اسلام کلا ګمرک کارکوونکو له یوه شخص څخه (۲۲۲۷۰) امریکایي ډالر، چي غوښتل ئې په غیر قانوني ډول ئې ایران ته ولېږدوي، کشف او ونیول. نیول سوي ډالر په اسلام کلا کي د افغانستان بانك څانګي ته وسپارل سول او نیول سوی کس د نورو څېړنو په موخه اړوندو ارګانونو ته ور وپېژندل سو.

## د ګمرکونو یو شمېر تخنیکي او عملیاتي معاونینو ته اتلس ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسید

د مالیې وزارت د هیواد د مالي نظام د پایښت او ودې یوه کلیدي اداره ده، او اساسي موخه ئې داده، چي په ټولو اړوندو ادارو کي د خپلو کارکوونکو وړتیا لوړه کړي، مسلکي اداري جوړې کړي، او د استعدادونو د جذب ترڅنګ د ټولو کارکوونکو لپاره روزنیز پروګرامونه جوړ کړي، چي د دې وزارت چاري په نړیوال معیار مخته ولاړې سي. په همدې اساس د ګمرکونو او عوایدو ملي اکاډمۍ له لوري د ګمرکونو یو شمېر تخنیکي او عملیاتي معاونینو ته د ټرانزیټ، قیمت ګذارۍ، تعرفې، ګمرکي رویو او نورو ورته موضوعاتو په تړاو جوړ سوی اتلس ورځنی روزنیز ورکشاپ پای ته ورسېده. د دغه ورکشاپ په پای غونډه کښي د ګمرکونو او عوایدو




معین ملا عبدالقاهر ادریس، د ګمرکونو لوی رئیس الحاج مفتي عبدالمتین سعید، ګډون کړی وو. د پیل په وینا کي د ګمرکونو لوی رئیس ټولو ګډونوالو ته د ور سپارل سوي

مسؤلیت او امانت دارۍ په اړه لارښوونه وکړه او همدارنګه ئې له اسلامي امارت څخه د ولس د هیلو په تړاو خبري وکړې. د ګمرکونو او عوایدو معین ګډونوالو ته د اطاعت پذیرۍ، امانت دارۍ، د ورته روزنیزو ورکشاپونو جوړېدلو او ګټورتوب او همدارنګه د مراتبو سلسلې په نظر کي نیولو سره د دندو سرته رسولو په اصولو رڼا واچوله. د غونډې ویناوالو د اکاډمۍ له پرسونل په ځانګړي ډول له ښوونکو څخه مننه وکړه، چي د بېلابېلو ادارو کارکوونکو ته د اړتیا په پام کي نیولو سره روزنیز پروګرامونه چمتو کوي. د یادوني وړ ده، چي د روزنیزو پروګرامونو لړۍ په چټکۍ روانه ده او مالیې وزارت د خپلو ادارو د مسلکي کېدو هڅه کوي.

## برنامه آموزشی برای کارمندان ریاست تکنالوژی معلوماتی وزارت مالیه دایر گردید

ریاست منابع بشری وزارت مالیه به همکاری انستیتوت تکنالوژی معلوماتی (Zoombyte) برنامه آموزشی ارتقای ظرفیت کارمندان ریاست تکنالوژی معلوماتی این وزارت طی مراسمی در خیبرهال دایر نمود. در این مراسم مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری، بلال احمد قریشی، رئیس عمومی مالی و اداری، استاد محمد صادق برومند، رئیس انستیتوت تکنالوژی معلوماتی و شماری از کارمندان ریاست تکنالوژی معلوماتی اشتراك داشتند. مولوی احمد شاه شاکر، رئیس منابع بشری در سخنان افتتاحیه این برنامه گفت، ما مسئولیت خویش را با فراهم سازی فرصت و امکانات جهت ارتقای ظرفیت مسلکی شما اداء نمودیم، از شما نیز میخواهیم با استفاده از برنامه ظرفیت و دانش مسلکی خویش را جهت ایجاد تغییرات مثبت در وزارت مالیه و تقویت نظام بالا ببرید. استاد محمد صادق برومند، رئیس انستیتوت تکنالوژی معلوماتی طی سخنانش گفت، خوشحال هستم که به نمایندگی از انستیتوت تکنالوژی معلوماتی (Zoombyte) در این برنامه که به منظور بالا بردن ظرفیت مسلکی و تخصصی و سرانجام آبادانی کشور گام برداشته می شود، اشتراك دارم. وی از اشتراك کنندگان خواست دو مورد را در اولویت کار های روزمره خود قرار دهند: یادگیری برنامه های تخصصی را در کنار برنامه های روزمره شان بگنجانند و سخت کوشی را سرلوحه کار خود قرار داده و در مقابل مشکلات زود تسلیم نشوند. بلال احمد قریشی، رئیس عمومی مالی و اداری، ضمن تشکری از ریاست انستیتوت تکنالوژی معلوماتی یا زوم بایت گفت، این برنامه های آموزشی از نظر ارتقای ظرفیت



فردی و در نتیجه پیشبرد امور به وجه احسن و ارائه خدمات ارزنده و قابل قبول به مردم اهمیت ارزنده دارد، بناءً از این برنامه بخاطر بالا بردن دانش تخصصی، تقویت نظام و خدمت به امت اسلام استفاده اعظمی و مؤثر نمایید. قابل یاد آوریست که این برنامه به مدت سه ماه ادامه داشته و در آن MCSE ، Network و CCNA به اشتراك کنندگان تدریس می شود.

شتمني SHTAMANI

... د وينا دوام

**السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!**

په دوهم قدم کې، مور غواړو د ننني کنفرانس له تنظيمونکو، په ځانګړې توګه په کابل کې د ابن سينا څېړنيز بنسټ څخه د زړه له کومې مننه وکړو، چې د دغه کنفرانس جوړولو لپاره ئې زمينه مساعده کړه او د دې فرصت ئې برابر کړ، چې په مهمو اقتصادي موضوعاتو؛ لکه: د اقتصادي ودې، پراختيا، د افغانستان بيارغوني، د مخ پر ودې اقتصاد او په هيواد کې د حقيقي او احتمالي پانګوني فرصتونو په اړه خبرې اترې وکړو. د امارتي ادارو په ځانګړې توګه د ماليې وزارت، بهرنيو چارو وزارت له مسؤلينو او نورو هغه ادارو څخه، چې د ابن سينا بنسټ په همغږۍ ئې د دغه کنفرانس د جوړېدو په برخه کې هلې ځلې کړې د زړه له کومې مننه او قدرداني کوو. همدارنګه د دغې غونډې د ګرانو ميلمنو او ګډونوالو څخه هم يوه نړۍ مننه، چې په دغه کنفرانس کې ئې ګډون وکړ، ښه راغلاست. د افغانستان اوسنيو حالاتو ته په کتو سره د افغانستان اسلامي امارت د ماليې وزارت د دا ډول کنفرانسونو جوړول خورا مهم، حساس او ګټور بولي او د دا ډول علمي او فکري غونډو پر جوړېدو او پياوړتيا ټينګار کوي. د اقتصادي نظرياتو او حل لارو وړاندې کولو لپاره د علمي کنفرانسونو جوړول خورا مهم او ارزښتناک دي او په مالي او اقتصادي ډګر کې د ننګونو په لېرې کولو او د آزاد بازار د ودې، د کورنيو او بهرنيو پانګوالو د هڅولو، د خصوصي سکټور په برخو کې د پانګوني په رامنځته کولو کې مرسته کوي، همدارنګه د توليدي او صنعتي فابريکو په جوړولو کې ارزښتناکه او ګټوره اغېزه لري؛ نو د بازار د ودې، صنعت او سوداګرۍ د پياوړتيا لپاره په دې برخه کې د ماليې وزارت له هيڅ راز هڅو څخه ډډه نه کوي. اوسني شرايطو ته په کتو، په داسې حال کې، چې امارت او خصوصي سکټور هڅوني او ترغيب ته جدي او اساسي ضرورت لري، يقيناً د افغانستان د راتلونکې اقتصادي پراختيا کنفرانس ته بيړنۍ اړتيا ليدل کېږي. د افغانستان اسلامي امارت له فتحې او له افغانستان څخه د امريکايي او ناټو ځواکونو تر وتلو وروسته په بېلابېلو؛ لکه: د (امنيت، بيارغوني، د اسلامي او اقتصادي ارزښتونو د ثبات او پياوړتيا) په برخو کې اغېزمن او ګټور ګامونه پورته کړي او په دې برخه کې ئې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې کړې دي او په پر لپسې ډول ئې هڅې کړې، چې افغانستان اقتصادي ودې او ځان بسياينې ته لاسرسی پيدا کړي او د يوه وارداتي هيواد پر ځای په توليداتي هيواد بدل سي. د ماليې وزارت باور لري، چې هر ډول علمي ناستې او کنفرانسونه، چې وکولای سي د افغانستان د خلکو د اقتصادي ودې لپاره اسانتياوې برابرې کړي، په خصوصي حوزو کې با سواده او لوستي ځوانان په کار وګوماري، د وزګارو او بېوزلو خلکو لپاره شغلي فرصتونه چمتو کړي؛ يقيناً چې د ماليې د وزارت او نورو دولتي بنسټونو او په ټوله کې د افغانستان اسلامي امارت د رهبرۍ لخوا ئې ملاتړ کېږي. اسلامي امارت موجوده اسانتياوو او امکاناتو ته په کتو د دغه کنفرانس له لارې اعلان کوي، چې موږ په خپل ټول قوت سره د ملي او نړيوالو پانګوالو ملاتړ کوو او د خصوصي بنسټونو پانګوالو ته په بېلابېلو برخو کې د پانګوني لپاره هر ډول لازم فرصتونه برابروو. دا غونډه د يوه علمي بحث په توګه زموږ د وخت يوه بې سارې خزانه ده، چې سره را ټول سو او د يوه مخ پر ودې اقتصاد په اړه فکر وکړو؛ تر څو افغانستان پر ځان بسيا سي. لږ تر لږه د (۴۳) کلني جګړې، تاوتريخوالي، تباهۍ او اشغال وروسته اوس افغانستان يو نسبي ثبات ترلاسه کړی، چې له نېکه مرغه د افغانستان خلک د آرامۍ او دايمي امنيت شاهدان دي او دا ارزښت په عملي توګه زموږ د ټولني برخليک ټاکي. اوسنيو شرايطو ته په کتو، په هيواد کې دننه او بهر زموږ ټولو فکري او علمي شخصيتونو ته لازمه ده، چې په يوه محور سره راټول سي او د يوه باثباته او پر ځان بسيا افغانستان لپاره فکر وکړي، د افغانستان د اقتصادي ودې لپاره بايد د همکارۍ لاسونه سره ورکړو او بديل پلانونه او حل لارې ورته وړاندې کړو، ترڅو افغانستان په يوه صنعتي او توليدي هيواد بدل سي. د ماليې وزارت د افغانستان اسلامي امارت په چوکاټ کې د يوه مهم اقتصادي سکټور په توګه په تېرو دوو کلونو کې په مالي -اقتصادي- عوايدو او ګمرکونو په برخه کې د پام وړ فعاليتونه ترسره کړي او هڅه ئې کړې ده، چې د مالياتو، عوايدو او ګمرکونو برخې له فساد څخه پاکې کړي او له اداري فساد او غير اسلامي اقتصاد څخه ليرې، مګر سالمې ادارې لپاره زمينه مساعده کړي. په دې کې شک نسته، چې د ماليې وزارت په تېرو دوو کلونو کې په مالي او اقتصادي ډګر کې په ځانګړې توګه د هيواد د ملي عوايدو په راټولولو او د پيسو د ثابت ارزښت په ساتلو کې په برياليتوب ځيلدلی دئ او هيله لري، چې په راتلونکې کې هم په هر اړخيز او اساسي پلان سره په هيواد کې اقتصادي ستونزې را کمې کړي او د خصوصي، دولتي او نړيوالو بنسټونو په همکارۍ نوي فرصتونه رامنځته کړي او په پای کې د ماليې وزارت هيله مند دئ، چې دا ډول ګټوري او ارزښتناکه غونډې او کنفرانسونه په دوامداره توګه جوړ کړل سي او د ټولو مهمو اقتصادي مسائيلو په اړه د بحث او خبرو اترو فرصتونه چمتو سي. د يوه سوکاله، خپلواک او سرلوړي افغانستان په هيله! تل قوي او باثباته اوسئ!

خدايا چنان کن سرانجام کارکه تو خشنود باشي وما راستګار

**والسلام عليکم ورحمت الله وبرکاته!**

... د خبر دوام

د کابل پوهنتون رئيس دوکتور اسامه عزيز په دې مراسمو کې د خپلو خبرو پر مهال وويل: «ډېر د خوښۍ ځای دئ، چې دغه ازموينه د لوستو او مستعدو ځوانانو د جذبولو په موخه ترسره کېږي. په دې کې شک نسته، چې په اسلامي امارت کې اشخاص د خپل لياقت او وړتيا پر اساس د يوې شفافې او قانوني پروسې له لارې په دندو ګومارل کېږي، چې د نن ورځې ازموينه ئې يو غوره ثبوت ګڼلی سو.» د ازموينو د ملي ادارې رئيس شيخ عبدالباقي حقاني په خپلو خبرو کې وويل: «په اوسني عصر کې د ډېريو عصري هيوادونو په پرمختګ کې د با استعداده، مسلکي او ژمنو اشخاصو ستر رول وي، چې الحمدلله نن په ګران افغانستان کې هم د وړ او با استعداده اشخاصو لپاره د کار زمينه برابره ده او ننۍ ازموينه د لوستو او مستعدو ځوانانو د جذبولو په موخه په لاره اچول سوې ده.» تر څو هغوی ته د خدمت فرصت برابر او هيواد مو د پرمختګ په لور روان سي، نوموړي د ازموينې د روڼتيا ډاډ ورکړ او زياته ئې کړه، چې د افغانستان په تاريخ کې کله هم دومره شفافه پروسه نه ده ترسره سوې او له ځوانانو ئې وغوښتل، چې په پوره ډاډ سره ازموينه ترسره او د خدمت جوګه وګرځي. د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت لوی او اجرائيه رئيس انجنير محمد نصير رحيمي د ياد شرکت د تاريخچې او فعاليتونو په اړه معلومات وړاندې کړل او زياته ئې کړه، چې اوس د اسلامي امارت د خپلواکۍ او حاکميت تر چتر لاندې د مسلکي کادرونو لپاره د خدمت زمينه برابره سوې ده، د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت هڅه کوي، چې د خپلو چارو د غوره ترسره کولو په موخه د داخلي متخصصو او ژمنو کسانو څخه کار واخلي، ترڅو دغه شرکت د ميلياردونو پانګې او سلګونه زره پرسونل په لرلو سره، لازمو وړتياوو ته په کتو او هيواد ته د خدمت لپاره نړيوالو شرکتونو ته په ورته شرکت باندې بدل کړي. نوموړي د ازموينو د ملي ادارې، کابل پوهنتون او ماليې وزارت څخه د شفافې ازموينې ترسره کولو په پار د دوی له همکاريو مننه وکړه. د يادوني وړ ده، چې د افغانستان د نفتو او ګازو دولتي شرکت له لوري د (۱۳۳) بستونو ازموينه په ورته وخت کې په دريو ولايتونو کابل، بلخ او هرات کې واخيستل سوه، چې (۳۲۰۰) کسانو پکښې ګډون کړی وو.

## معاون جديد عملياتی برای رياست عمومی عوايد وزارت ماليه تعيين گرديد




حافظ خليل احمد ابوالاحسان که قبل از اين به حيث مستوفی ولايت هرات اجرای وظيفه می نمود، بر اساس لزوم ديد رهبری وزارت ماليه و با نظرداشت تجارب بهتر وی، از سوی الحاج ملا عبدالقاهر ادريس معين عوايد و گمرکات، به صفت معاون جديد عملياتی رياست عمومی عوايد تعيين گرديد. قابل ذکر است که با کارکردهای بهتر و مديريت عالی محترم ابوالاحسان در مستوفيت هرات، شفافيت و پيشرفت قابل ملاحظه در امور مستوفيت مذکور به ميان آمده است.




# اعلانات داوطلبی

### اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد

بدينوسيله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده می شود اينکه وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه (تدارک خدمات ۸۸ خط E1 سيستم های عوايد، مستوفيت ها و حوزه های مالياتی) دارای نمبر قرارداد (NCS/۱۴۰۲/MOF-۰۴۱) را با شرکت افغانستان فيض ستلايت کميونيکشن دارنده نمبر جواز (D-۲۰۱۴۰) را به قيمت مجموعی مبلغ (۳,۷۸۱,۶۰۰) سه ميليون هفتصد و هشتاد و يک هزار و شش صد افغانی عقد قرارداد نمايد. اشخاص حقيقی و حکمی که هر گونه اعتراض در زمينه داشته باشند ميتواند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی ۷ روز تقويمی طور کتبی توام با دلايل آن به وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات کابل ارائه نمايد. اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکر و طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، منزل دوم .شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

### دعوت به داوطلبی

داوطلبی پروژهء(تهيه و تدارک وسايل تکنالوژی مورد ضرورت رياست برسی عوايد وزارت ماليه) دارای نمبر تشخيصيه G/۱۴۰۲/MOF/۰۶۵-NCB-REBID که به روش داوطلبی باز صورت می گيرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان دری و پشتو ذريعهء فلش ميموری از آدرس ذيل مطابق شرايط شرطنامه، قانون و طرزالعمل تدارکات عامه اجراء می گردد بدست آرند.
جلسه قبل از داوطلبی: تاريخ ۱۹/عقرب/۱۴۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر می باشد.
تاريخ مشخص آفرگشايی: تاريخ ۲۹/عقرب/۱۴۰۲ ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر ميباشد.
تضمين آفر: به مبلغ ۲۷۰،۰۰۰ (دوصدو هفتاد هزار) افغانی ميباشد.
آدرس: وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات،شعبه اعضای مسلکی تدارکات منزل دوم.
شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲٤۰٤٦
آفرهای دير رسيده و انترنتی پذيرفته نميشود.

### اطلاعيه تصميم اعطای قرارداد

بدينوسيله به تاسی از ماده چهل و سوم قانون تدارکات به اطلاع عموم رسانيده می شود اينکه وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان در نظر دارد، پروژه (تدارک ۳۰ حلقه تاير و ۲ عدد ويل کرين برای گمرکات ولايات) دارای نمبر قرار داد (REBID-۰۳٤-G/۱٤۰۲/MOF) را با شرکت تجارتی فضل حبيب کاروان لميتد دارنده نمبر جواز ۵۱۶۷۰ را به قيمت مجموعی مبلغ (۳,۹۰۰,۰۰۰) سه ميليون نوصد هزار افغانی عقد قرارداد نمايد. اشخاص حقيقی و حکمی که هرگونه اعتراض در زمينه داشته باشند ميتواند اعتراض خويش را از تاريخ نشر اين اعلان الی ۷ روز تقويمی طور کتبی توام با دلايل آن به وزارت ماليه امارت اسلامی افغانستان واقع پشتونستان وات کابل ارائه نمايد. اين اطلاعيه به معنی عقد قرارداد نبوده و الی تکميل ميعاد فوق الذکرو طی مراحل قانونی بعدی، قرارداد منعقد نخواهد شد.
آدرس : وزارت ماليه چهارراهی پشتونستان – رياست تدارکات، منزل دوم .شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۵۸۴

### د کابل ولايت د (۱٦) ناحيې اړوند د دوو ملکيتونو د داوطلبۍ خبرتيا!

د دولتي املاکو لوی رياست غواړي، چې د کابل ولايت د (۱٦) مې ناحيې اړوند دنساجي بګرامي په داخل کې لاندې (۲) ملکيتونه په جلا جلا ډول د دواطلبۍ لپاره اعلان ته وسپاري
الف: دوې بسوې ځمکه، چې مساحت ئې (۲۰۰) متره مربع دئ
ب: (۲۰۴۲) متر مربع ځمکه، چې څلور بابه اطاقونه لري.
ټول هغه حکمي او حقيقي اشخاص، چې غواړي نوموړي ملکيتونه په کرايه ونيسي کولای سي خپل غوښتنليکونه د اعلان له نشر څخه وروسته (۷) ورځو په موده کې د دولتي املاکولوی رياست ته وسپاري او دياد سوي ملکيت شرطپاڼه د اسنادو د ارزوني او لومړني قيمت ته په کتو ترلاسه کړي.
د اعلان د پای نېټه: ۱۴۰۲/۸/۲۱


ویبپاڼه: mof.gov.af
ټویټر: @ Ministry of Finance - Afghanistan
یوټیوب: afghanistan mof
شمېره : ۰۲۰۲۹۲٤٤٤۰(+)


د امتیاز څښتن: د مالیې وزارت
مسؤل مدیر: احمد ولي حقمل
مرستیال: شمس الدین عاطف
د کتنپلاوي تر نظر لاندې

شتمنی SHTAMANI
اوونیزه



## Examination Provided for Recruitment of 3200 Candidates in Afghan Oil & Gas SOC

The examination for the appointment of professional employees for the Afghan Oil and Gas SOC (State-owned Corporation) related to the Ministry of Finance (MoF) was conducted by the National Examinations Authority (NEA) during a ceremony in the hall of Tamim Ansari of Kabul University. In these ceremonies, General Director of SOC, Alhaji Abdulhamid Akhundzada; General and Executive Director of Afghan Oil and Gas SOC, Engineer Mohammad Nasir Rahimi (AKA Engineer Hassan); Director of Human Resources of the MoF, Maulawi Ahmad Shah Shakir; Director of NEA, Sheikh Abdulbaqi Haqqani; Directore of Kabul University, Dr. Osama Aziz and some other officials of the Islamic Emirate of Afghanistan (EIA) also attended. Dr. Osama Aziz, Director of Kabul University, said: "It is great to be happy that this exam is being conducted to recruit educated and talented young people. There is no doubt that in IEA, people are appointed to jobs based



on their ability through a transparent and legal process." Sheikh Abdulbaqi Haqqani, the Director of NEA said: "In the modern era of development of many developed countries, there is a great role of talented, professional and committed people. All praises to Allah that there is a job opportunity for talented people, and today's exam has been launched in order to recruit educated and talented youths" With the intention to give them the opportunity to serve and push our country towards development. Mr. Haqqani assured the transparency of the examination and added that such a transparent process has never been done in the history of Afghanistan. He asked the youths to participate in their full confidence to be prepared to serve the country. General and Executive Director of Afghan Oil and Gas SOC, Engineer Mohammad Nasir Rahimi, presented information about the history and activities of the said corporation and added that presently under the umbrella of the independence and sovereignty of IEA, opportunity is provided for professional cadres. Afghan Oil and Gas SOC is trying to use internal experts and committed people in order to do its work better, so that this State-owned Corporation with billions of capital and hundreds of thousands of personnel looking at the necessary skills and to serve the country and change the said corporation as an international corporation. Engineer Rahimi eventually thanked the NEA, Kabul University and the MoF for their cooperation in conducting the transparent examination. It is merely worth mentioning that the Afghan Oil and Gas SOC conducted the examination for 133 various positions simultaneously in three provinces as Kabul, Balkh and Herat, which 3200 candidates participated indeed.

## MoF Launches Work on New Benchmarks to Revise National Anti-Corruption Strategy

Under the leadership of Mr. Mutiullah Mujadadi, Acting Director of the General Directorate of Coordination, Monitoring and Reporting of DM for Policy of MoF, including the directors, advisors and professional heads of DM for Policy of MoF, the first coordination meeting was held in the meeting hall of the said ministry In order to present the benchmarks and recommendations for revising the strategy of anti-corruption. In this meeting, in light of the decree of Amir ul-Momineen (may Allah protect him), regarding




the amendment of the strategy of anti-corruption, according to the requests of the General Directorate of Reform of the Affairs of IEA and the Directorate of Anti-corruption, a comprehensive and effective discussion was held.

## Persimmon Included in Seasonal Tariff, Its Customs Duty Set

At the request of the Ministry of Agriculture, Irrigation and Livestock (MoAIL) and the decision of the third session or meeting of the Tariff Committee related to the Ministry of Finance (MoF) and with the approval of domicile of MoF, the persimmon fruit is included in the seasonal tariff and its 30% customs duty was set in order to support the farmers of the country. Persimmon fruit was not included in the seasonal tariff before this and 10% tax was taken. Currently from the first of Mizan (23/ September) to 30th of Aqrab (21/ November) that is the harvest season of persimmon, 30% customs duty is charged. Also, potatoes that were previously included in the seasonal tariff and the harvest period was from 15th Sawar (05/ May) to 30th of Mizan (22/ October), and during this period 30% customs duty was paid, currently the harvest period has been selected from the first of Jawza (22/ May) to the 30th of Aqrab (21/ November) and its customs seasonal tariff has been increased to 50%. Notably, the seasonal tariff for persimmon and potatoes is currently being implemented in all customs offices of the country.

